# د ګل پاچا الفت ادبي نظريات

## Gul Pacha Ulfat's Literary Thoughts

بريالی باجوړی*

**Abstract**:

Gul Pacha Ulfat is one of the most prominent thinker and innovative poet in the Contemporary Period of Pashto Literature who has written many books. During his time, he was also one of those poets who had presented different views and opinions about literature. He has constructive words, in general, about literature, but he focuses specifically on poems.Ulfat is not only an inventive poet who has contributed to the creation of new thoughts, but he has also presented his thoughts and ideas about literature. He had done so at the time that the literary theories of the Western world hadn't been arrived, and all Afghan scholars used Arabic Language and the traditional Arabic methods. In his work,Ulfat has used Arabic literary beliefs and opinions while his other ideas are the product of his own thought. At the beginning, he published his thoughts and beliefs in a book titled *Literary Discussions*, and many years later, he published his other thoughts and beliefs in another book titled *Composition Writing*. Yet Ulfat published some other literary and social thoughts and beliefs in another book titled *Social Opinions*. In his artistic prose books, there are some literary ideas and thoughts related to different issues in inventive literature. He has an analytical book named *Pashto Sanderi*in which he has analyzed Pashto poems beginning in the classic period to contemporary period. In this book, one can also observe his literary ideas and thoughts. Thus, he is the only one person who has touched on literary theories while others had not even been familiar with the name of it.

**Key words:** Literature, Pashto Languge, Ulfat's Literary, Thoughts.

ګل پاچاالفت دپښتوادبياتومعاصرې دورې يونوميالی مفکراونوښګرليکوال اوشاعردی چې دګڼوکتابونو خاوند دی.الفت يوله هغوليکوالوڅخه دی چې په خپل وخت کې يې دادبياتوپه باره مختلف نظريات وړاندې کړي دی.نوموړي په مجموع کې ادب اوپه خاصه توګه د شعر په اړه دکارخبری لري.الفت لکه چې يومفکر ليکوال دی اودفکرونو توليد يې کړی دی همداسې د ادبياتو په اړه هم خپل نظريات وړاندې کړي دي.الفت دا کار په هغه وخت کې کړی دی چې دغربي نړۍ ادبي تيوری لاهيواد ته نه وه رارسيدلې او زموږ ټولو علماوو له عربي علوموڅخه استفاده کوله او د عربي

* Associate Professor, Department of Pashto, University of Kabul, Afghanistan

دوديز ميتودونه کارول.الفت دعربي ادبي نظرياتو څخه هم استفاده کړې او د کارخبرې يې ترينه راخيستي دي خو نور نظريات يې د خپل فکر محصول دي.ده په لومړي سرکې دغه خپل نظريات په يوکتاب کې خپاره کړل چې ( ادبي بحثونه ) نوميږي اوبيا څوکلونه وروسته يې ځينې نورنظريات په يوبل کتاب کې چې ( ليکوالي املااوانشا ) نوميږي خپاره کړل . همدارنګه يو لړ ادبي او اجتماعي نظريات يې په يوبل کتاب کې چې ( اجتماعي نظريات ) نوميږي هم نشرکړل . دده د هنري نثرونو په کتابونو کې هم يو لړادبي نظريات راغلي چې دتخليقي ادبياتو په بيلابيلو موضوعاتو پورې اړه لري . دالفت يوتحليلي کتاب دی چې ( پښتو سندرې ) نوميږي او دپښتوشعريې له لرغونې دورې څخه ترمعاصرې دورې پورې تحليل کړی دی چې په دغه کتاب کې هم ځای ځای دده ادبي نظريات راغلي دي .په دې توګه الفت يوازيني سړی دی چې هغه وخت يې له ادبي نظرياتو سره تماس نيولی چې ډيرخلک دادب تيورۍ له نوم سره نااشنا وو.

**اصلي متن** :

ګل پاچاالفت دخپلې زمانې (۱۲۸۸ ـ ۱۳۵۶ ) شمسي کال هغه مفکراونوښتګرليکوال اوشاعردی چې خپل رسالت يې په ښه توګه سرته رسولی دی اودمعاصرادب ديوريالیست ليکوال په توګه يې د اولس دويښيدنې لپاره په نظم اونثرکې ډيراثارپنځولي دي . دلته دده په تخقيقاتو اوتخليقاتو باندې خبرې نه کوم بلکې دده په هغو ادبي نظرياتو باندې غږيږم چې په خپل وخت کې نوي او دکارخبرې وې . الفت پخپلو دغو نظرياتو کې دشعر ادب ، تخليق دتخليق توکي ، او دادبي کره کتنې په اړه نظريات لري چې ډيرې خبرې يې په هغه وخت کې نوې وې

اصلي متن : ګل پاچاالفت دخپلې زمانې ( ۱۲۸۸ ـ ۱۳۵۶ ش ) هغه مفکراونوښتګرليکوال اوشاعردی چې خپل رسالت يې په ښه توګه سرته رسولی اودمعاصرادب ديو ريالست ليکوال په توګه يې دولس دويښيدنې لپاره په نظم اونثرکې ډير اثارپنځولي دي . دلته دده په تحقيقاتو اوتخليقاتو باندې خبره نه کوم بلکې دده په هغو ادبي نظرياتوخبرې کوم چې په خپل وخت کې نوې اودکارخبرې وې . الفت په خپلو دغونظرياتو کې په مجموع کې دادب ، شعر ، تخليق دتخليق توکي ، کره کتنه اونورو ډيرو موضوعاتو په اړه يولړادبي نظريات وړاندې کړي دي چې دغه ادبي نظريات په خپل وخت کې ډير نوي وو .

دالفت دلومړنيو ادبي نظرياتو کتاب ( ادبي بحثونه ) نوميږي چې په ( ۱۳۲۴ ش ) کال کې چاپ شو . په دې توګه ويلای شو چې په معاصروادبياتو کې الفت لومړی شخص و چې په پښتوژبه کې دادبتورۍ بنسټ کيښود .

کاندید اکاډیمسن محمدصدیق روهي ددغه کتاب په اړه لیکي :

"ادبي بحثونه به ښایي په پښتوژبه کې لومړی کتاب وي چې دادبي تیورۍ په باره کې لیکل شوی دی . الفت دلومړي ځل لپاره پردغه موضوع مفصل بحث کړی دی اودادبي تیورۍ ډیر حقایق اودقایق یې راسپړلي دي".(1)

خودلته باید یادونه وکړم چې ګل پاچا الفت له دغه کتاب نه راوروسته هم یولړنورادبي نظریات په خپلو راوروستو کتابونوکې لکه : لیکوالي املا اوانشا ، اجتماعي نظریات ، پښتوسندرې ، غوره نثرونو او حتی په شعرونو کې وړاندې کړي دي .که دغه ټول وروستي نظریات هم دلومړي کتاب سره مل شي نولوی کتاب به ترینه جوړ شي .

دالفت په ادبي نظریاتو کې دشرقي اوغربي ادبي نظریاتوګډون ترسترګوکیږي خوپه داسې حال کې چې غربي ادبي نظریات لاپه بیشپړډول زموږ ادبیاتو ته لاره نه وه پیداکړې . دالفت دادبي نظریاتونه څرګندیږي چې دعربي پوهانودادبي نظریاتو مسلطه لاره ورو ، ورو پریږدي اوخپل نظریات له غربي تیورۍ سره نیږدې کوي . په دغونظریاتو کې ډیر دالفت دخپل فکرمحصول اوزیږنده ده ځکه الفت دخپل وخت یولوی مفکر اولیکوال و چې دفکرونوتولید یې کړی دی اونوي فکرونه یې خواره کړي دي .

الفت دشعرپه اړه ډیرجالب نظریات لري اودشعرپه اړه ډیرې ژورې خبرې دي . الفت وایي چې شعردزړه کاردی اوهرڅه چې له زړه نه راوځي زموږ دغرایزو برخه ده اوموږ له خپلو غرایزو نه مجبوره یو چې په موږ په تاثیرکوي .

دی زیاتوي چې دشعراوادب اصل جوهرعواطف اواحساسات ، تخیل اوتمثیل دی . دشعراوادب اغیزه په همدغو څلورو توکو کې ده . دشعرماخذ زړه دی اوکه له عواطفو ، احساساتو ، قلبي تمایلاتو او ربنتیانیو جذباتو نه ډکې

کاروا خیستل شي نوبیا تشبه ، استعاره ، تخیل اوتمثیل هم روح پیداکوي اوپه ادبي صنعتونو کې هم یو حقیقي کیف پیداکیږي .

الفت په دې نظردی که په شاعر یوازې په ادبي صنعتونو اوښکلو الفاظو اتکاکوي اوکوم قلبي تاثرورسره نه وي نو نظم به جوړشي خودبدیعي احساساتو دتحریک قوت به پکې نه وي . الفت دشعرپه ښکلامعتقید دی خووایي چې داهرڅه دبدلون اوتغیرپه حال کې دي . ښکلاهم تغیراوبدلون کوي . الفت دغه نظرپه یوساده مثال کې وړاندې کوي چې ډیرمحسوس دی (( مګراوس څوک په دغه رازجامو او کالیو (ادبي صنعتونه ) نه غولیږي او دشعرناوې په خپله ګوري . په دې کې شک نشته چې یوښه لباس په هروخت کې هرچاته ضروردی اوبې لباسه شیان ښه نه ښکاري . مګرلباس په هروخت کې بدلیږي اودزیب وزینت سامان وخت په وخت بل رازکیږي .

"کله خلک اوږدې جامې اغوندي اوکله لنډې ، یووخت بخې او چکنونه رواج وي ، بل وخت ساده لباس ښه ګڼل کیږي . کله په کالیو کې ډیرافراط کیږي او کله بیاهغه پایزیبونه اودسروتتکې له رواجه لویږي . شعرهم په دې وخت کې خپل لباس اوزیورله پخوانه بل راز کړی دی او هغه ټول پخواني کالي نه اغوندي . که څوک یې په ډیر زوراوتکلف ورواغوندي نوخلک یې نه خوښوي بلکې عیب یې ګڼي" (2)

الفت شعریوازې دتفنن وسیله نه ګڼي اودشعررسالت ته په ډیراهمیت قایل دی . که په کوم شعرکې مفکوره نه وي نوهغه یې تش یوښکلی لستونی ګڼي او بس . دالفت په نظرشعرباید دبشرتیاره ګوټونه رڼاکړي ، ولسونه راویښ کړي ، اتحاداووحدت رامنځته کړي اوټولنه په خوزښت راولي . الفت دشاعردرسالت اودشعردمضمون په اړه وایي.

" شاعربایددفکري انقلاب علمبردار او بت شکن وي . شاعرته نه ښایي چې دزاړه منطق درس دعقل له زاړه بوډانه واخلي او په زاړه فکرپسې لاړشي". (3)

الفت دښه شعر اویورښتني شاعرلپاره دفکراوعقیدې ازادي مهمه ګڼي چې په هیڅ وخت اوهرډول شرایطوکې چا ته سرټیټ نه کړي ، نوی فکرله ځان سره ولري اوپه پخوانیو سنتي لارو لاړ نه شي . که شاعر دغه ځانګړتیاوې ولري نودښه شعرویلو طمعه ترې کیدای شي .

الفت وایي.

" هغه څوک چې په زړونو کې هیجان ، تاثر اوهیجان نه شي پیداکولی اوزړونه نه خوزوي شاعورته نه شوویلی که دا رښتیاوي چې دچرګانو په نارو ویده خلک له خوبه پاڅیږي نودابایدومنو چې دشاعرانو په نغمو دیوملت مړه احساسات اوجذبات راویښیږي" (4)

الفت دشاعراوفیلسوف دفکرنتیجه یوه ګڼي . یوازې دارایي لارې یې جلا ګڼي .دشاعر دفکراوخیال پراوز لوړوي او له لوړځای نه دجهان ذره ذره ګوري . دفیلسوف نظرژور وي او په خپل ژور نظر دپدیدو ماهیت معلوموي . الفت په یوې نثري ټوټې کې دغه مطلب په ډیره ښه توګه وړاندې کړی دی.

"وریځې پورته په هواکې دي ، ځاګانې ښکته په ځمکه کې . هغه څه چې په هسکووریځو کې شته په ژورو ځاګانو کې هم شته . په دغو اوبو باندې هم هماغه تنده ماتیږي . دلوړ خیال اوژورفکرنتیجه یوه ده . ته یا خپل نظرډیرلوړ کړه یا په خپل ګریوان کې سرډیر ښکته کړه . زه دشاعراوفیلسوف فرق همدغه ګڼم". (5)

دالفت په نظرشاعرعادي وکړی نه دی بلکې له عادي وګړو څخه ډير تفاوت لري . هغه څه چې يوشاعريې ويني يو عادي وګړی يې نه شي ليدلی . له کايناتو اوطبيعت سره يوازي شاعررازاونياز کولی شي او دکايناتو په رمز باندې هم يوازي شاعرپوهيدای شي .

الفت په دې اړه ليکي.

"په يوه لاره ډيرخلک تيريږي مګريونيم پکې چيرته يوه ښکلې مرغلره پيداکړي چې دچاله اميله پريوتې اوپه خاورو کې پرته وي ، ډيرلاروي په يوه لاره روان وي څوک يوخوا ګوري څوک بله خوا دچا يوشي ته پام شي دچابل شي ته ، يوپکې دديواله له کنډوه کوم ښکلی مخ ويني بل دبام په سرتوره کتهوه .ديونظردخان اوملک په بنګله وي بل دخورانو اوغريبانو جونګړو اوکنډوالو ته ګوري". (6)

الفت وايي چې شاعربايددخپلې ټولنې له حاله خبروي او دټولنې دحقايقو ويندوي وي ، قومونه راوينښ کړي اوراتلونکې په اړه دوړاندوينې پيغامونه ولري .

ګل لانه وي ټوکيدلی چې ورېمه يې راځي ده ته
دبلبلو نغمې اوري دبل عصرګلستان کې
دمرغانو پراوزونه په هګيو کې لاويني
پلوشه دلمرليدای شي دسپيدو ځيري ګريوان کې
ترجمان دطبيعت دی باخبردملک له حاله
غلی نه دی پاتی شوی په بهاراوپه خزان کې
دده سترګې دوربينې ، ذره بينې اوحق بينې
له هرچا يې نظريې لوړدی کوي ځارپه کهکشان کې
حاجبان اوحجابونه دده مخه نيوی نه شي
حقيقت پسې کړي هڅه په مکان اولامکان کې
ده سره تحولات شته دی راوړي انقلابونه
په افکارو په عاداتو په اوضا عو ددوران کې
چې يوقام له خوبه وينښ کړي اوفکرونه رابيدارکا
قدرت دغه تاثيرايښی دشاعراه وفغان کې (7)

الفت شعرالهام ګڼي اووايي چې شعرويل دمعمولي خلکوکارنه دی چې دغه مطلب په يوه څلوريزه کې دا ډول بيانوي .

په عادي حال کې عادي غوندې انسان يم
دژوند چاروکې له ډيرونه نادان يم
په بل حال کې څوک زما په خوله څه وايي
چې بيا زه په خپله هم ورته حيران يم (8)

الفت دشاعردنده دټولنې راوينبونه ګڼي . شاعربايد دظالم اومظلوم څيرې ولس ته وښايي . خلک خپلو حقونو ته متوجه کړي. د الفت په نظرشاعردټولنې لارښوونکی دی چې ټولنه رهبري کړي اوشاعرخپل رسالت سرته ورسوي. الفت دخپل هرپيغام لپاره ډيرې ښکلې طرحې جوړوي چې مثالونه يې دخلکو له ژوند نه راخلي اوبيرته يې په خپلو الفاظو کې اواغيزناکوکلمو کې وړاندې کوي .

**لکه دشاعرتحفه**

زه چې ورغلم هغه په کوټنۍ کې ناست و . سرېې په ګريوانه کې کښته کړی و ، فکري عبادت يې کاوه.
کله چې هغه سراپورته کړ اوپه ماېې نظرېې ولويده ماخپله تحفه يو دپړانګ پوستکی اويوغزنيچې پوستين دهغه په مخ کې کيښود . هغه وويل :

"دايودظالم پوټکی دی ځکه دپښو لاندې لوېږي دابل دضيعفانو له پوستکونه جوړ دی اوپه غاړه پورې تعلق نيسي . دشاعرتحفه بايدهمدغسې وي اوهمدغه معناولري . دی بايد دا دوه منظري همدغسې وښيي اوخلک په دغه رمز ښه پوه کړي . په دغو خبرو زه له خوبه راويښ شوم اوپه خوب کې دخپل خوب په تعبير پوهيدلی وم "(9)

الفت دشعراوادب لپاره خيال ډيرمهم اوبنيادي عنصرګڼي چې پرته له خيال نه ادب نه ايجاديږي او که وي هم نو يوبې خونده اوبې کيفيته ليک به وي .
الفت دخيال په اړه وايي

"خيال پټ معنوي قوت دی چې له واقعاتواومحسوساتو نه هغه خوا ځينې شيان ويني او په غيبي حقايقو پورې زړه تړي . په کومه لارچې خيال تللی شي عقل هلته درېدو په شان ټپريږي اوڅه نه ويني . دانسان دفکراوعقل مانۍ په خيال ولاړده اودملتونو په حيات کې ډيره ستره اومهمه برخه لري . خيال په شعراوادب ډيردخل لري اوشعرا او ادبا دخيال په مرسته عواطف اومشاعرراوينبوي چرته چې شعراو ادب کمزوري اوخيالات مړه وي هغه ملت مړبلل کيږي . که په شعر اوادب کې له خيال اوتخيل نه کاروانه خيستل شي له ړندو سترګو هم اوښکې تويوي اوله کاڼوسخت زړونه نرموي ". (10)

الفت دخيال په برخه کې اوږده بحثونه لري . خيال په درې برخوتقسيموي لکه مبتکرخيال ، مصورخيال او مفسرخيال چې بيا هريو يې ځانته تفسيرلري اودلته دمقالې دحوصلې نه لرې خبره ده .
الفت کله کله دخپلو ادبي نظرياتو مفاهيم په خپلو شعرونو کې هم راوړي لکه :

فکرکې خیال په خیال کې فکرنیول
معنی ته رنګ رنګ ته معنی ورکول
دشاعرکاردی شاعري وګڼه
دزړه په سترګو خوب په ویښه لیدل (11)

دالفت په نظردشعریومهم توکی عاطفه ده اودالفت له نظره عاطفه یوه داخلي قوه ده چې دغه قوه په نفسونو تاثیرکوي خوالفت دعاطفې لپاره رښتینوالی اوصداقت ضروري ګڼي . دعاطفې رښتینوالی دادی چې حقیقي بنسټ ولري اوکه چیرې دعاطفې رښتیوالی نه وي نو پیکه توصیفونه او تکلفي مبالغې به وي . دی وایي چې ځینې خطیبان اوشاعران داحساساتي کلمو لکه وطنیت ، ملیت ، قومي لوړتیا په راوړلو سره دعوامو په شعور لوبې کوي ، ددوي احساسات راوپښوي اومتاثرکوي یې مګرداتاثرات اني وي او دوخت دغوښتنې تابع وي ، کله چې غوښتنه بل راز شوه نودغه وینا بیا هیڅ قیمت نه لري . الفت دغه ډول شاعري په ادب کې نه حسابوي چې موسمي رنګ لري اودموسم اووخت په تیریدو سره یې بیاڅوک نه اوري اونه چلیږي .

الفت په ادب اوشعرکې دابتکار اونوښت پلوی دی او نوښت دده په نظرپه یوه ادبي اثر کې نوي مضمون اونوي فکرته وایي . الفت دا هم وایی چې که نوی مضمون نه وي اوموضوع زړه وي نودویلو انداز اوطرز دې باید نوی وي ، که شاعراولیکوال دغه قوت ونه لري نو بیا به نقال اومقلد وي ، تکراري خبرې به وي او چې نوښت نه وي نو ادب دابتذال سطحې ته راټیټیږي او ابتذال دشاعراولیکوال مرګ دی .

پوهاندعبدالحی حبیبي دالفت دتفکر، هنر اودده دخلاقیت په باره کې وایي

"الفت یوماهراوسترګه ورهنرمن ( ارټیسټ ) دی چې دده په هنرکې دا درې غټې ښګڼې وینم ، جمال چې دالفاظو او کلماتو غوره کول اوبیا دهغو اوډنه ، ترتیب اوپیودنه ( نظم ) غټې نښانې دي . دویم برهان اواستدلال که دفطرت له هره مظهره وي یو منلی دلیل جوړولی شي اودده په نظرکې ددنیا ټول مظاهر داستدلال دپاره څرګندې نښې دي . دریم انتقاد دده دهنرغټه ښګڼه ده . دی دمظلومانو خواخوږی دی ، داجتماعي ظلمونودښمن دی . په خپل لیک کې که منظوم وي که منثوراولسي تجاوزاتو ته ګوته نیسي اودده قلم په دې خواکې ډیرتیزدی . دظالمانو اسرارلوڅوي اود مظلومو اولوڅو لغړو په کوټو ورننوځي اود دوی دفلاکت او بدبختۍ حال ګوري اوهغه د ، ولس دعبرت لپاره په داسې ژبه بیانوي که دچازړه ډیرکلک هم وي بیابه هم اغیزه پرې وکړي" .(12)

الفت دفکرازادي ترهرڅه مهمه ګڼي اوپه تیره شاعر او لیکوال که دفکرازادي ونه لري نو شاعراولیکوال یې نه ګڼي . الفت فکراوعمل سره تړلی ګڼي اوکه فکرعملي بڼه پیدانه کړي نوبیا

دمړي مثال لري . فکرونه باید دعملي کیدو استعدادولري اوکوم فکرچې نه عملي کیږي قیمت نه لري . الفت وایي که په یوادبي اثرکې دفکرازادي اومفکوره نه وي نو بې روحه جسد دی .

الفت دفکرکولو اودفکردازادئ په اړه لیکي.

"موږباید فکروکړو اوبې فکره نه شو . دفکرازادي که دخاینانو ، غدارانو اوریاکارو لپاره ضررلري دیو ملت لپاره ډیر مفید معلومیږي او ترقي وړپورې تړلې ده . که فکرونه ازاد شي اوهرڅوک خپل نظریات ښکاره کړی شي مفکران اوفکري مشغله پیداکیږي . دغه دملک مهم مسایل چې او س پکې فکرونه ګنګس اوحیران دي او دمشکلاتو علاج رانه ورک دی اصلي علت یې همدغه دی چې په کلونو کلونو فکرونه ایسار اومختنق شوي دي . له دغه محبوس اومقید فکرنه دحل لاره غوښتل هیڅ معنا نه لري".(13)

یوبل ځای لیکي

"چیرته چې اندیښنې او تصورات لکه بندیان اوقیدیان په ذهن او دماغوکې ایساروي اودجرت اوجسارت لاس او پښې تړلي وي لیکوال هلته غلامانه حثیت لري".(14)

الفت کوم پوهنتون اومکتب نه ولوستی ، نه یې کوم خاص استاد درلود مګرده یو خاص استعداد درلود . دی یومفکر و اوددید مشاهده یې ډیره ژوره ده . دده تفکر اوژورې مشاهدې دده دنړۍ لید درامنځته کیدو سرچینه وه . په نظم اونثرکې یې هغه څه ویلي دي چې نوي وو او داولس دژوند سره یې تړاو لاره . دویښ زلمیانو دنهضت په موسسینو کې و اودوخت پرحاکم نظام یې شدید انتقادونه کول .

کاندید اکاډیمسن محمدصدیق روهي یې په دې ډول یادوي.

"دپښتوژبې نقاد لیکوال اومتفکر شاعر اروانښاد ګل پاچا الفت دخپل وخت دتحول غوښتونکو اوریفورمیستانو په لومړي کتارکې دریدلی و . دشعراوادب له لارې یې دځوانانو په تنویر کې ستره ونډه اخیستې ده . الفت یوانتقادي ریالست و چې دحاکمې طبقې ارتجاعي څیره یې افشاکوله اودفساد ، اختناق او ارتجاع پرضد یې کله علني اوکله په رمزي توګه مبارزه کوله".(15)

روسي لیکوال دوریانکوف دالفت په باره کې وایې.

" که څوک دګل پاچا الفت دپیژندینې پوښتنه وکړي ممکنه ده دده داثارو دتجزیې له مخې ورته دایوه جمله په ځواب کې وویل شي الفت له اولس څخه دي اوله اولس سره دي"(16)

دالفت دتفکراندازه دده داثارو له مطالعې څخه څرګندیدای شي چې دغه شخص دفکرپه تولید کې څومره ونډه درلوده . دده په ادبي نظریاتوکې ډیرې داسې نوې خیرې شته چې نه ده لوستې وې

اونه يې له کوم کتاب نه راخيستې وې اوداهغه نظريات دي چې اوس هم دمنلوړ دي ترډيره حده له اوسنۍ زمانې سره سازګاردي . هغومره فکرچې الفت خپل اولس ته ورکړي او د دوي په بيدارۍ اوويښيدنې کې يې خپل رول اداکړی دی بل مثال يې نشته . ده خپل فکرونه هميشه په ساده الفاظو او دخلکوپه ژبه ولس ته وړاندې کړي خودارايې انداز يې خوږ اوزړه راښکونکی دی . دی ساده مثالونه وړاندې کوي خوپه دغه ساده مثالونو کې دژوند مهمو موضوعاتو ته دخلکوپاملرنه راګرځوي . دلته دخپلوخبرو په پای کې دالفت ديوې نثري ټوټې يوه برخه راوړم چې دده دفکرژوروالی ترينه ځرګنديږي .

"په شفتالوکې زړی دی په زړي کې ونه ولاړه ده . دغنموپه وړو کې دانه شته ، په دانوکې همدغسې وړي شته په چرګه کې هګۍ کې چرګه ده .دغه يوه پندانه چې ګورې تيل اوپلته دواړه لري اوپه حقيقت کې بله ډيوه ده . مګرستا سترګې دغه رڼا نه ويني . ته خبرنه يې چې په يوه دانه اويوڅاڅکي کې عالمونه پراته دي . ته پخپله هم دغنم په دانه کې ويده وې . بيا دې په يوڅاڅکي اوبو کې لامبو وهله . نن په لويه بيړۍ کې ناست يې اوپه لويو دريابونو کې ګرځې".(17)

**پایله**:

ګل پاچا الفت دمعاصرې دورې مفکر ، نوښتګر اويوريالست شاعر اوليکوال دي چې دپښتوژبې اوادب په هرڅه کې ګټوراثارلري . نوموړی دخپل وخت انقلابي شاعر اوطبقاتي ليکوال و چې تل دخورانو، مزدورانو اوبزګرانو په څنګ کې ولاړ و او پرحاکمه طبقه يې شديد انتقادونه کول .

الفت سربيره پردې يو مفکر ليکوال و چې هميشه يې دفکرتوليد کړی اود ، ولس اذهان يې په خپلو نويو فکرونو روښانه کړي دی . دالفت دادبي نظرياتو ډيره برخه دده دخپل فکرمحصول ده اوهغه څه يې چې دشعر ، ادب اوتخليق په اړه ويلي دي دده دخپل فکرايجاد دی . دالفت ادبي نظريات دده په ( ادبي بحثونه ) نومې کتاب اوهمدرانګه په ( ليکوالي املا اوانشا ) کې هم راغلي دي . الفت علاوه پردې پخپلو نثري ټوټو کې هم دادب ، شعر ، شاعراوليکوال په اړه ډيرې ګټورې خبرې کړي دي چې دنويو ادبي نظرياتو ځرګندونه کوي . په پښتو معاصرينو کې الفت په دغه کارکې مخکښ دی او دغه امتياز يې پرځای دی . دښه شعر ، دښه ادبي اثر ښيګڼې او پيژندنه دلومړي ځل لپاره الفت په معاصره دوره کې تعريف کړې . همدارنګه دټولنيز او ادبي انتقاد شروع هم ده وکړه اوپخپلو اثارو کې انتقاد رامنځته کړ . دی دخپلوتوندو انتقادونو له کبله په انقلابي شاعرمشهورشو . دالفت ادبي انتقادونه دليکوالو لپاره داثارو داصلاح ډيره لارښوونې وسيله شوه . لنډه داچې الفت دخپل وخت ډيرلوی مفکراونوښتګرشاعراو ليکوال و چې اثاراوافکاربه يې ترډيره وخته په خلکو کې ځای ولري .

## حوالې

(1) روهي ، محمدصديق، دالفت ادبي بحثونه ، دالفت ياد دسيمينار دمقالومجموعه، ۱۳۶۱ مخ 13،12
(2) الفت ، گل پاچا ، ادبي بحثونه ( دريم چاپ ) پيبنور ،دانش خپرندويه ټولنه۱۳۸۰ ، ،مخ 5
(3) الفت ، گل پاچا، ، ليكوالي املا او انشا ( ځلورم چاپ ) جلال اباد : يارخپرندويه ټولنه، ۱۳۹۲ ،مخ 87،88
(4)همدغه، مخ 88
(5)همدغه،مخ 159
(6)همدغه،مخ 37
(7) الفت ، گل پاچا ،غوره اشعار ، پيبنور : كابل كتابفروشي، ۱۳۶۹ ،مخ 1-5
(8) الفت ، گل پاچا ، دالفت خبرې ، پيبنور : ميهن خپرندويه ټولنه، ، ۱۳۹۴ ،مخ 114
(9) الفت ، گل پاچا ، غوره نثرونه (دويم چاپ ) جلال اباد : ميهن خپرندويه، ، ۱۳۹۳ ،مخ 14
(10) الفت ، گل پاچا ، اجتماعي نظريات ( دويم چاپ ) ميهن خپرندويه ټولنه، ، ۱۳۹۲ ،مخ 42-44
(11) الفت ، گل پاچا ، دالفت خبرې ،مخ 85
(12) حبيبي ، عبدالحی، الفت ( غوره نثرونه ) دويم چاپ ، جلال اباد ۱۳۹۳ ،مخ 114-115
(13) الفت ، گل پاچا ، اجتماعي نظريات ( دويم چاپ )،مخ 10-11
(14) الفت ، گل پاچا ، ليكوالي املا او انشا (ځلورم چاپ ) ،مخ 54
(15) روهي ، محمدصديق، ادبي څېړنې ، پيبنور: دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۶ ،مخ 110
(16) دوريانكوف، دگل پاچا الفت غوره اشعار ، ژباړه معتمد شينواری ، كابل مجله ، ځلورمه گڼه ، كابل : پښتوټولنه ، دولتي مطبعه، ۱۳۳۹ ،مخ 29-32
(17) يون ، محمداسمعيل، دالفت نثري كليات ، كابل : اسد دانش مطبعه ۱۳۸۹ ،مخ 45